# د تیوري اساس او روان مباحث

**The root of Theory & prevailing discussions**

شریف خان♣

ډاکټر نصیب الله سیماب♠

**Abstract:**

The primary limelight of this research paper revolves around the topic of literary theory and post-theory discussions in literary field. The researchers have tried to pinpoint the critical approach of liberal humanism (traditional approach) being applied prior to modern theory; which, they noted, had paved ways for new critical approaches to literary studies. These new approaches under the title of literary theory have ushered in a new era of critical discussions. While plethora of questions and objections were also raised against literary theory by various scholars, due to which, the post-theory or after-theory debate begun. All these prospects of liberal humanism, modern literary theory and post-theory have been critically visualized in this article.

**Key words**: Theory, Liberal Humanism, Modern Theory, Post-theory.

**تعارف :**

څنګه چي انساني ټولنې د تاریخ په اوږدو کښي علمي او فکري پرمختګ کړئ دی. له دې پرمختګ سره یې د نورو علومو په څنګ کښې ادبي نظر هم بدل شوئ دی. یعني که د تاریخ په یوه ادبي دوره کښې ادبپوهانو یوازي پر دې موضوع باندي اکتفا کړې ده، چي: هنر د هنر لپاره او که هنرد ژوند لپاره. نو په دې بله دوره کښې یې جمالیات (ښکلا) د ادب یوازینۍ موضوع ګرځولې ده. هم دا ډول ځیني نقادان ادب یوازي خیالي او تخلیقي لیک ګڼي. مګر یوشمېر ادیبان د هنري لیک په اړه یو بېل نظر لري: د دې فکر پلویان ادب د حقیقت پسندي په تله باندي تلل غواړي. خو ځیني محققین ادب د لیک یو داسي ځانګړی ډول ګڼي، چي له دې لاري د ټولني اصلاح تر سره کیږي. ادبپوهانو که څه هم تر یوې اوږدې مودې پوري پردې بحث باندي چي: هنر د هنر لپاره او که هنرد ژوند لپاره، قناعت وکړئ. مګر د نولسمې او شلمې پېړۍ په منځنۍ دوره کښي د ادبیاتو په هکله نوي نظرونه رامنځته شو، چي تنقیدي څېړني د ژوند او خوند څخه د لیکوال، متن، لوستونکي، لاشعور، هیت او ترکیب، ټولنیز حالات، او داسي نورو موضوعاتو ته انتقال شوې. د مثال په توګه، د رومانویت ملګري د کلاسیکي ترکیب او اصول پر ځای باندي د شاعر و بېساخته جذباتو، په فارملیزم کښې نقاد د متن پر ځای باندي و شکل (فورم)، په سټرکچرلیزم کښې و ترکیب او د ترکیبي اجزاو په منځ

---

♣ Lecturer, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

♠ Professor, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

کښې تعلق، په اروا پوهنه کښې د لیکوال لاشعور، او په قاري اساس تنقید کښې د لوستونکي تنقید او اساسیت ته ارزښت ورکول کیږي. مګر له دې سره سره د متن اهمیت ته هم ځانګړې پاملرنه شوې ده. یعني هغه کوم عوامل دي چې د هنري یا ادبي او غیرهنري لیک په منځ کښې توپیر په ګوته کوي، یا هغه کومې ځانګړتیاوې دي چې یو لیک ادبي کوي یا ادبیت / هنریت (literariness) پکښې پیدا کوي.

د شلمي پېړۍ فرانسوي فلاسفر او نقاد، ژان پال سارتر(۱۹۰۵-۱۹۸۰) (Jean-Paul Sartre) په خپل یوه اثر " ادب څه دی" "What is Literature" کښې د لیکوال-لیک- اولوستونکی په اړه یو خوندور بحث کړی دی. سارترپه یوه ځای کښې.

**ژباړه** :" لیک د چا دپاره د تېښتې/ فرار او د چا دپاره د بریالیتوب وسیله ګڼي." (1)

سارترپه خپل پورتني علمي اثر کښې د ډېرو علمي سوالونو په څنګ کښې دا پوښتنه هم کوي، چې د دې هر څه برسیره هغه کوم عوامل دي، چې یو لیکوال اړ باسي چې د خپلې تېښتې او یا د خپل بریالیتوب کیسه ولیکي. خوکله چې وار د لوستونکي (Reader) د لوست او د متن (Text) پوهنې راشي، نو قاري به د دې شرح او مانا څنګه افاده کوي؟ د ادبي لیک د تحلیل او تشریح په هکله دې ډول پوښتنو نوي ادبي مباحث رامنځته کړل، چې وروسته د ادبي تیوري یا د ادب تیوري په نامه باندې ونومول شو. دا نوي بحثونه د بېلا بیلو پوهانو لخوا مطرح شوي دي، چې د لیکوال، متن او قاري په هکله ځانګړي اصول لري. تر دې له مخه چې پر دې نوي ادبي مباحثو باندې نوره رڼا واچوو، د تیوري په هکله یو لنډ وضاحت وړاندې کوو.

**تیوري**:(Theory)

تیوري څه ده او د پیدا کیدو لامل یې څه دی، یا دا چې د تیوري اصطلاح له کومې خوا څخه راغلې ده، او معنا یې څه ده؟ ترتیوري وړاندې کوم تنقیدي اصول عملي کېدل او له تیوري وروسته (پس تیوري) (post-theory) به څه پېښېږي، یا دا چې له تیوري پس څه پېښ شوي دي؟ دا داسې پوښتنې دي چې په دې تحقیقي څېړنه پورې اړه لري. له دې سره سره ددې خبرې یادونه هم ضروري ده، چې د تیوري بحثونه په مختلفو مضامینو کښې لیدل کیږي. دا علمي بحثونه یوازې تر ادب پورې محدود نه دي پاته شوي. ځکه د تیوري په هکله هغه تعریفونه او اصولونه راوړل مهم دي، چې د تیوري په اړه یوه عمومي خاکه وړاندې کوي. د بېلا بېلو علمي څېړنو په رڼا کښې داسې ویلای شو، چې د تیوري اصطلاح خو بظاهره ساده، اسانه مګر مبهمه ښکاري. د دې اصطلاح استعمال د علومو په بېلا بېلو مکتبونو کښې بېلا بېلې معناوې او ځانګړې وظیفې ترسره کوي. له دې سوبه د تیوري په هکله باندې تراوسه پورې یو داسې متفقه تعریف منځته نه دی راغلی، چې د علومو هره څانګه قناعت

وربانديِ وکړي. د دې تر شاه يو شمېر علتونه په ګوته شوي دي. يعني هره علمي څانګه د پېښو څېړنه د خپل تاکلي اصولونو له لارې کوي، او د حل لارې يې پيدا کوي.

په دې اساس باندې د ټولنپوهنې د يوه نقاد ګېبرل اېبينډ (Gabriel Abend) هغه ليکنه راوړو، چې په خپله يوه تحقيقي مقاله کښې يې "د تيوري معنا" (The Meaning of Theory) تر عنوان لاندې کړې ده. اېبينډ د تيوري اصطلاح د معاصر ټولنپوهنې په قاموس کښې له هغو مهمو تورو څخه ګڼي، چې د دې تورې د زيات استعمال يا ډېروالي برسېره تر اوسه دا واضح نه شوه چې ټولنپوهانو د دې تورې (تيوري) څخه مقصد څه دی. پورتنی ليکوال په خپله مقاله کښې د هغو اوو شيانو/ توکو په منځ کښې توپير په ګوته کوي، کوم چې ټولنپوهان د تيوري له کارولو څخه ماخذوي. ګېبرل په خپله ياده علمي ليکنه کښې د تيوري اصطلاح اووه (۷) ماناوې راوړې دي، چې دلته يې د موضوع د لنډيز دپاره يوازې پر پښتو ژباړه باندې اکتفا کوؤ:

"۱ – تيوري: که څوک د تيوري اصطلاح د اولې تيوري په معنا استعمال کړي، نو له دې څخه د هغۀ مطلب يو عمومي تجويز/ قضيه يا د عمومي تجويزونو په منطقي توګه مربوط نظام دی، چې د دوو يا ډېرو متغيراتو (Variables) په منځ کښې روابط جوړوي.

۲ – تيوري-: د دې تيوري وظيفه د يوه ځانګړې ټولنيز پديدې توضيع او تشريح ده.

۳ – تيوري : لکه اولې دوې تيورياني، د دريمې تيوري مهم مسوليت په ټولنيزه نړۍ کښې د تجربي پېښې په هکله څه ويل دي.

۴ – تيوري: د تيوري اصطلاح او د دې ماخذونو څخه کله کله د يو شي مطالعه اويا د ليکوالو د ليکنو لوستوونکي لکه مارکس، وېبر، ډرخائم، سيمل، سارسنز، اېبرماسن، يا بوډئيو اخيستل کيږي. دا څېړني په بېلا بېلو نومونو لکه تفسرونه، تجزيې، انتقادونه او توضيعي جوړښتونه پيژندل کيږي.

۵ – تيوري: دا تيوري د نړۍ په هکله د يوه فلسفي غوندي د منظم او اصولي تصور او علم منوونکې ده. دا تيوري و نړۍ ته له يوه ځانګړې او پراخ علمي نظره ګوري او تشريح يې کوي. دا تيوري د اولو تيوريانو په څېر د ټولنيزې نړۍ سره اړه نه لري، بلکې و دې ته ځنګه کتل دي، درک کول او نمائندګي کول دي. له دې سوبه دا تيوري زموږ پر فکري او ژبني توکو باندې تمرکز کوي.

۶ – تيوري: قاموس ليکوونکي د تيوري د تورې اشتقاقي ريښه د وروستي لاطيني نوم/ اسم تيوريا (Theoria) او د يوناني نوم تيوريا (Theoria) او کار/ فعل تيورين (Theorein) (چې معنا ئې يوه شي ته کتل، مشايده کول يا چورت وهل) سره تړي. د دې تورو تعبيرونو او تضميمونو کښې بېلوالی، څارنوالی، فکر کول او بصيرت برخه لري.

۷ – تیوري: د ټولنپوهني زیاترو پوهانو د ورو او لویو پېښو، د جوړښت پرستونزه او ځانګې یا د ټولني د پرمختګ او سوکالي پر مسله باندي لیکني کړي دي. دا رنګه وظیفه د ټولنپوهني تیوري په ساحه کښي راځي. څوک کېدلی شي چي د تیوري اصطلاح د هغو کړنلارو د مباحثو په رڼا کښي وکاروي، چیري چي حقیقت په اجتماعي ډول رامنځته کیږي."(2)

د ګیبرل ابېنډ پورتنۍ بحث که څه هم د تیوري د استعمال په هکله هراړخیزه تصویر وړاندي کوي. مګر له دې سره ترلې نوري داسي پوښتني هم راپورته کوي، چي د تیوري خاصیت، استعمال او حدود به څنګه ټاکل کیږي؟ یعني د تیوري د نظري یا عمومي اصولو معیار به څه وي؟ د تیوري د سموالي او ناسموالي پیمانه به څه وي؟ د تیوري د چوکاټ احاطه به څنګه کیږي؟ کومه تیوري به سمه بلل کیږي، او کومه تیوري به رد کیږي، او د ردولو دپاره به یې اصول څه وي؟ دا ټولي داسي پوښتني دي، چي د تیوري د استعمال او حدود موضوع له پېچیدګي سره مخامخ کوي. جوناتن کولر (Jonathan Culler) هم داسي نظرلري، چي تیوري هیڅ محدودیت (endless) نه لري، او نه یو څوک له یو ډول لیک زده کولو سره د تیوري پر علم باندي برلاسی کیږي. جوناتن لیکي:

“One of the most dismaying features of theory today is that it is endless. It is not something that you could ever master, not a particular group of texts you could learn so as to ‘know theory’.” (3)

**ژباړه**: د تیوري په نیمګړتیاو کښې یوه خامي د دې لامحدودیت دی. دا یو داسي شی نه دی چي قدرت دي ورباندي ومومندل شي، او نه د یوه مخصوصه متنونو مجموعه ده، چي له زده کولو سره یې لوستونکي په تیوري پوهه شي.

هم دا پوښتني دي، چي د تیوري موضوع ورځ تر بلي له پېچلتیا سره مخامخ کوي. لکه څنګه چي د تیوري حدود ټاکل او پر دې باندي بشپړه قدرت پیدا کول ګران دي. هم دا ډول د تیوري ثابیتدل او رد کول مشکلات لري. ډیویډ کارټر (David Carter) لیکي.

**ژباړه**:"دا هم د تیوري د خاصیت برخه ده، چي دا به نه یوازي یو څه ډول پېچیدګي (complexity) لري، بلکې د دې سم ثابتیول (prove) او غلط ثابیتول (disprove) هم یو سخت کار دی. یوه تیوري کېدلائ شي، چي ډیره اغیزناکه (قانع کېدونکې) (convincing) و برېښي، ایا د دې سموالی، اثباتیب (validity) ثابیتدلائ شي؟ که چیري تیوري نشي تصدیق کېدلائ، ایا له دې سره به تیوري خپل ارزښت له لاسه ورکړي؟ او هغه کوم عوامل دي چي د یوې تیوري تصدیق (proof) او غیرتصدیق (disproof) تشکیلوي."(4)

لنډه دا چي د پورتنیو تعریفونو او بحث په رڼا کښي د تیوري څخه داسي معنا اخیستل کیږي: چي تیوري د هغه علمي اصولونو او کړنلارو و یوې مجموعې ته ویل کیږي، چي څېړونکي او لیکوالان یې دځپلو څېړنیز فعالیتونو دپاره استعمالوي، او له دې لاري سائنسي، کلتوري او ادبي ستونزي هواروي. دا اصولونه او کړنلاري د تجربو، مشاېداتو او علمي زدکړو په نتیجه کښي منځته راغلي دي، او هر کله د نوي او پرمختللي عصري غوښتنو سره ځان بدلوي را بدلوي. مګر د دې نظري او عمومي اصولو د سموالي او حدود تعین پخپل ځای داسي پوښتني دي چي د تیوري په خاصیت او اساسي مهفوم پوهیدلو کښې ستونځې پیدا کوي.

**تر تیوري وړاندي تیوري-ازاد خیالي، لیبرل هیومنیزم (Theory before theory-Liberal Humanism)**

دا حقیقت پر خپل ځای باندي مسلم دی، چي ادبي تیوري د تنقید زاړه روایتونه ټول مات کړل، او ادبي څېړنو ته یې نوي اصول وټاکل. په دې اساس باندي داسي پوښتنې پیدا کیږي، چي تر تیوري له مخه ادبي تحلیل څنګه کیدلی؟ یا هغه زاړه تنقیدي اصول څه وو، چي په ادبي او تنقیدي څېړنو کښې یې د نقادانو لارښوونه کوله؟ یا داسي حالت وو، چي ادیب او نقاد پکښې له هر بندیز څخه مبرا وو؟ د انساني فطرت د مشاهدې خبره ده، چي هرعمل تر شا یو ردعمل زیږوي. هم دا ډول د تیوري بحثونه ضرور د یوه ادبي لیدلوري په رد عمل کښې راپورته شوي دي. یا دا چي له زاړه تنقیدي اصول سره یې اختلاف ښکاره کړۍ دی، او د نوي اصول دپاره یې لار هواره کړې ده. د مثال په توګه، د شاعري په اړه د افلاطون تنقیدي نظرارسطو په دې هڅوي چي ادب تقلید وبولي. او له دې پرته، بې شمېره مثالونه راوړل کېدلای شي، چي یو ادبي لید لوری د بل ادبي لید لوري په رد عمل کښې رامنځته شوی دی. هم دا ډول چي کله د شلمې پېړۍ په اتیایمه لسیزه کښي د تیوري بحث یو تود موضوع ګرځي، نو فطري خبره ده، چي تر شاه یې یو تنقیدي نظر برخه لرلې ده. ادبپوهان وه دې تنقیدي نظر ته "تر تیوري وړاندي تیوري – ازاد خیالي" (liberal humanism) اصطلاح ټاکلې ده. پیټر بیري ترتیوري وړاندي تیوري په هکله داسي لیکي:

> "All the critical approaches describe in this book are a reaction against something which went before, and a prior knowledge of these things cannot be assumed. Hence, I start with an account of the 'liberal humanism' against which all these newer critical approaches, broadly speaking, define themselves".(5)

**ژباړه**: په دې کتاب کښي بیان شوي ټول تنقیدي نظریات د هغه څه په ضد یو ردعمل وو، چي تر دوی وړاندي موجود وو، او د دوی د تاریخي معلوماتو په اړه باندي هیڅ ادعا نشي کیدلای. نوځکه زه له ازاد خیالي څخه پیل کوم، د کوم په خلاف چي دې ټولو نوؤ تنقیدي نظریاتو خپل اهداف ټاکلي دي.

له دې څخه داسې پایله اخذ کېږي چې ترادبي تیوري له مخه د لیبرل هیومنیزم یا ازاد خیالي په نامه باندې ځینې روایتي تنقیدي اصول موجود وو، چې د دوی په ردعمل کښې نوی ادبي لید لوري د ادبي تیوري تر عنوان لاندې پیل شوی دی. دا زاړه تنقیدي اصول څه وو، او څنګه عملي کېده؟ د لیبرل هیومنیزم په هکله د ادبي اصطلاحاتو او ادبي تیوري لیکوال د جې. اې. کډدون لیکي:

> "Liberal humanism: A term for the kind of 'traditional' literary scholarship that does not subscribe to any theoretical school of thought, e.g. Marxist criticism, feminist criticism or new historicism…the term, which is largely pejorative, was first used in the 1970s following the rise of theory in literary studies…Its primary intellectual impetus came from figures such as Matthew Arnold, Irving Babbitt and F.R. Leavis".(6)

**ژباړه**: لیبرل هیومنیزم: دا د یوه ډول روایتي ادبي څېړنو اصطلاح ده، چې هیڅ نظري مکتب، لکه مارکسي تنقید، صنفي / فیمینسټ تنقید یا نوی تاریخیت، نه قبلوي...دا اصطلاح، چې په مجموعي توګه منفي مانا افاده کوي، په ۱۹۷۰ یمه لسیزه کښې تر تیوري له مخه په ادبي څېړنو کښې په ړومبي ځل استعمال شوه. د دې بنیادي فکري اصول د مېتیو ارنلډ، ایروینګ ببېټ، او ایف. ار. لیویس څخه اخیستل شوي دي.

د ازاد خیالي اصطلاح پخپله یوه مبهمه اصطلاح ده، او د خپل حدود او اصول په تعین کولو کښې ستونزې لري. د لیبرل هیومنیزم پلویانو یوازې پر انسانیت باندې یقین درلود، ځکه چې غوره ادب و ټول انسانیت ته ګټه رسوي. دا و هغه ادبي لید لوری چې د ادبي تیوري دپاره یې لار هواره کړه.

**ادبي تیوري یا د ادب تیوري**: **(Literary Theory)**

ادب د سائنسي علومو په څېر پر تجرباتو او مشایدو باندې تکیه نه لري، او نه د تخلیقي هنر په دې څانګه کښې تعریفونه او تشریحات د ساینسي فارمولو غوندې کوټلي او د هر چا دپاره یو رنګه مانا لري. په دې اساس باندې چې هرکله د ادب د تحلیل او څېړنو دپاره بېلا بېل نظرونه او اصولونه د ادبي تیوري تر سرلیک لاندې پیل شو، نو په ادبیاتو کښې یې نوي علمي بحثونه رامنځته کړل. ادبپوهانو د ادبي تیوري په هکله د راپورته شوي اساسي پوښتنو دپاره بېلا بېل ځوابونه ویلي دي: چې ادبي تیوري څه ده؟ انکشاف یې څنګه کړئ دی؟ څه وظیفه لري؟ او ارزښت یې څه دی یا ادبي تیوري د څه مقصد دپاره استعمالیږي؟ د ملاتړ او مقاومت دپاره یې څه دلیلونه راوړل شوي دي؟ ادب څه دی ؟ د ادبي او غیرادبي لیک په منځ کښې څه توپیر دی؟ یو ادبي متن خپله معنا څنګه لیږدوي اوڅله بېلا بېل توضیحات لري؟ هغه یوازینۍ قوت څوک دی چې د متن تعبیر او تشریح وکړي اوڅېړونکی څه اختیار لري چې د خپلې تشریح د سموالي پریکړه وکړي؟ دې پوښتنو نوي تنقیدي مباحث رامنځته کړل، چې وروسته یې د ادبي تیوري یا نوي ادبي لیدلوري پر نامه باندې شهرت پیدا

کړئ. په دې اساس باندي ادبي تیوري د جدید ادب یوه لازمي برخه وګرځېده، او له دې پرته تنقیدي څېړني عبث ګڼل کیږي.

ادبي تیوري یا ادبي لید لوری و ادب ته له یوه ځانګړي اړخ څخه ګوري. د مثال په توګه، په فارملیزم کښې و فورم یا شکل ته اهمیت ورکول کیږي، په تحلیل نفسي کښې پوهان د متن د لاري د لیکوال د لاشعور برخې ته د رسولو هڅه کوي، او د صنفي توپیر د تیوري مدافعین بیا د ښځینه ذات په تناظر کښې د متن یا فنپاري څېړنه کوي او هغه توپیرونه چي پر صنفي بنیادو باندي واقع شوي وي، په نظر کښې نیسي. د پوهانو دا تنقیدي انتقادونه د مخصوصو ادبي تیوریو تر سرلیک لاندي مطالعه کیږي، چي ځانګړي اصول او د عملي کیدلو طریقې لري. محمد نبي صلاحي په نوې ادبي تیوري کښې د ادبي تیوري د ارزښت په هلکه لیکي:

> " د ادبیاتو نوې تیوري په حقیقت کي د نوو هنري ادبیاتو د بېلا بېلو ډولونو په باب مدون، سستېماتیکه او منظم معلومات او د هغو تفسیر دی. دغه مترقي تیوري د علمي او انقلابي تیوري د ځلاندو پرنسیپونو په رڼا کي د ژبني هنر (بدیعي ادب) پر مضمون او شکل باندي خبري کوي، د هغوی رښتیني ماهیت څېړي او د تحلیل قوانین او مېتوډ یې تر مطالعې لاندي نیسي". (7)

د ادبي تیوري د ارزښت په هکله یو بل نقاد تومس اې. سکیمز (Thomas A. Schmitz) لیکي:

> "Literary theory claims to speak for literature in general, for all periods and cultures …That literary theory is a toolbox which will always be ready to supply the right instrument for the job in hand." (8)

**ژباړه**: ادبي تیوري په عمومي توګه د ادب، کلتور او نورو ادوارو دپاره د ړغ پورته کولو ادعا کوي... او ادبي تیوري یو ټولبکس (بکسه) دی، کوم چي هر وخت د کار دپاره سمه وسیله وړاندي کوي.

لنډه دا چي ادبي تیوري یا ادبي لید لوری په یوه هنري لیکنه کښې یو ځانګړی اړخ تر څېړنه لاندي راوړي. یعني ادبي تیوري د خیالاتو او اصولونو یوه مجموعه ده، چي یو څېړونکی یې د ادب په تنقیدي څېړنه کښې نه یوازي پر کار باندي اچوي. بلکې له دې لاري په فنپاره کښې پټې ماناوي رابرڅېره کوي. مګردا پوښتنه پرخپل ځای باندي پاته ده، چي په ادبیاتو کښې د ادبي تیوري تر عنوان لاندي نوي مباحثو کله پیل شو، او د پیل کیدو علتونه یې څه وو.

**د ادبي تیوري پیل: (Origin of Literary Theory)**

د ادبي تیوري د پېل په اړه ادبپوهان اختلاف لري: د پوهانو یوه ډله داسي فکر لري چي د ادب د تیوري یا ادبي تیوري بنسټګر ارسطو دی. ځکه چي ارسطو په بوطیقا یا د شعر فن (Poetics) کتاب کښې د ادب او شاعري په هکله مدلل بحث کړئ دی. اوله دې پرته یې د هغو پوښتنو ځوابونه هم ویلي دي، چي د افلاطون له لوري راپورته شوي و. مګر دویمه ډله ادبیان له لومړني نظر سره متفق نه

دي، او ادبي تیوري یوازي د شلمې پېړۍ د شپېتمي او اتیایمې لسیزو اختراع ګڼي. دوی فکر لري چي په ادبي نړۍ کښي د اتیالسیزه د تیوري ساعت / شیبه (moment of theory) په نامه باندي شهرت لري. ځکه چي په دې لسیزه کښې د تیوري بحث هر اړخیزه ارزښت موندلی وو. په دې اساس باندي د ادبپوهانو دویمه ډله ادبي تیوري د شلمې پېړۍ د وروستنۍ لسیزې اختراع ګڼي.

**ارسطو - د تیوري بنسټګر:**

د ادبپوهانو لومړنۍ ډله پر دې خبره باندي ټینګار کوي چي د یونان او روم و خاوره ته په دې باندي اهمیت حاصل دی، چي په ړومبي ځل د تیوري مباحث هم دلته پیل شوي وو. خو تر کومه ځایه چي د ادبي تیوري د پیدائښت پوښتنه ده، نقادان په عمومي توګه د ځیني یوناني پوهانو لکه اپلاتون او هیراکلیت نومونه په سر کښي یادوي، مګر په ځانګړي توګه ارسطو دادبي تیورۍ موسس ګڼل کیږي. محمد نبي صطلاحي لیکي:

"د ادبیاتو د نوی تیوری د لومړی برخي مخکښان له لرغوني یونان څخه هیراکلیت (۵۳۰-۴۷۰ ق. م)، ډیموکریت (۴۶۰-۳۷۰ ق. م) او ارسطو (۳۸۴-۳۲۲ ق. م) دي. او له پخوانۍ روم څخه تیتوس لیو کری شیس کاروس (۹۸-۵۴ ق. م) او نور دي."(9)

محقیقین فکر لري چي که څه هم اپلاتون (۴۲۷-۳۴۷ ق م) په جموریت (Republic) کښي د ادبي تیوري په اړه نېغ په نېغه بحث نه دی کړی، مګر د شاعري په هکله یې د جموریت په دریم جلد کښي څه یادوني کړي دي. اپلاتون د جموریت (ژباړه بینجامین جووټ، دریم جلد کښي لیکي:

**ژباړه**:"رېښتنی ادب نه خیالي وي او نه مقلد یا تقلیدي، بلکې ساده او نظریاتي (ideal) وي... له دي سوبه په دې کښي قدرتي ذوق پیداکول دی کوم چي و هر څه ته د حقیقت او ښائیست احساس ورکړي. خو د دې هر څه برخېره به شاعران له تصوراتي ریاست څه ایستل کیږي، البته ادب د منطق د یوه ښېل اړخ په توګه به پېژندل کیږي...:(10)

تحقیقي څېړني په ګوته کوي، چي د سقراط شاګرد اپلاتون په یوه داسي وخت کښي د مثالي/ خیالي ریاست مفکوره وړاندي کړه، چي یوناني ټولنه له فکري او اخلاقي بدحالي سره مخامخ شوې وه،او سقراط د ځوانانو د ربتني روزني په تور باندي اعدام شوی وو. ځکه اپلاتون غوښتل چي یوناني ټولنه خپل تللی افتخار بېرته تر لاسه کړي، او د یوه مثالي ټولني یا ریاست په توګه ژوند وکړي. اپلاتون د یوه مثالي ریاست دپاره د ډېرو غوښتنو په څنګ کښي نه یوازي د مثالي ادب او رېښتني شاعر خبره کړې ده. بلکې اپلاتون شاعر له عامو خلګو څخه بېلولی. محمد صدیق روهي لیکي:

"اپلا تون شاعران عام خلګ نه ګڼي (ځکه) شاعران چي شعر وایي دا په اصل کې د هنر د رب النوع پیغامونه دي، چي د دوی له خولې اوریدل کیږي. پر دې اساس د شعر منبع الهام دی او د یوه عادي شخص لپاره ممکنه نه ده، چي د اشعارو داسي قیمتي مرغلري له خپل ځانه د

نظم په تارکې وپيي... خو کره کتونکي د اپلاتون جموريت د ادب لومړی کتاب نه بولي، ځکه و ده ته د ادبي تيوري د موسس درجه هم نه ورکوي. "(11)

خو کله چي ارسطو د خپل استاد د را پورته شوو پوښتنو په ځواب کښي بوطيقا يا د شعر فن (Poetics) کتاب ليکي، نو د هغو پوښتنو ځوابونه وائي چي د شاعر او شعر په هکله اپلاتون راپورته کړې ؤ. مګر ادبپوهان دا عقيده لري چي ارسطو په دې بحث کښي د خپل استاد نوم نېغ په نېغه نه دی ياد کړئ. له دې څخه پوهان داپلاتون پرځای باندي ارسطو د ادبي تيوري موسس ګڼي. صديق روهي په خپل اثر ادبي څېړني کښې ليکي:

"د شعر په هکله د ارسطو، نظر شعر له طبيعت څخه تقليد دی. له دې علته، ادبپوهان ارسطو د ادبي تيوري بنسټګر تسليموي."(12)

ادبپوهان په دې خبره باندي متفق دي، چي ارسطو په بوطيقا يا د شعرفن په کښې کوم بحث کړئ دی، هغه د ادبي تيوري اساس وګرځېدئ. هم دا خبره يو بل پښتون اديب دوست محمد شنواری په خپل اثر "د ادب د تيورۍ اساسونه" کوي ليکي:

"د خپل وخت د ادبي هغو ډيرو ښو آثارو نه د استنتاج په بنسټ چي په راتلونکی وخت يې هم خپل ارزښت له لاسه ورنکړ ارستو د ادبي تيوری اساس کښېښود."(13)

په دې اساس باندي د لومړنۍ ډلې پوهان ارسطو د ادبي تيوري بنسټګر ګڼي.

مګر د پوهانو دويمه ډله له لومړنۍ ډلې سره اختلاف لري. دوی د تيوري بحثونه يوازي د شلمې پېړۍ اختراع ګڼي. چي له روسي فارمليزم څخه د شلمې پېړۍ په دويمه لسيزه کښې پيل کيږي. او دا د ويکټرشلوسکي (Viktor Shklovsky) ليکنه (Art as Device) وه، چي په ياده لسيزه کښې يې د فارمليزم دپاره لاره هواره کړه. مګرځيني پوهان داسي دليل وړاندي کوي، چي د تيوري بحثونه له دويمې نړيوالې جهګړې وروسته په پراخه کچه باندي پيل شوي وو. د مثال په توګه د سټرکچرليزم تحريک له فرانس څخه د وشلمې پېړۍ په پينځمه لسيزه کښې سر راپورته کوي، او د کلاوډ ليوي سټراس او رونالډ برتس (Claude Levi-Strauss and Roland Barthes) ليکني د سټرکچرليزم بنياد ګرځي. ياده دي وي چي سټرکچرليزم ړومبی په بشرپوهنه کښې پيل شو، بيا و نورو علومو ته انتقال شو. ولفريز تر دې وړاندي ځي، او د ۱۹۷۰ لسيزه د تيوري د پيل ګڼي. ولفريز په دې هکله باندي ليکي:

"It may well be the case, as some critics' claim, that literary theory has been around as long as there has been literature, even if it has been termed `poetics' for example." However, aside from the fact that such remarks are not really helpful, it remains the case that the advent of courses concerning themselves with `theory' first occurs in the 1970s...,." (14)

**ژباړه**: ځيني نقادان دعوه لري چي ادبي تيوري او ادب سره همځولي دي، تر دا پوري چي دوی د بوطيقا يا شعرفن کتاب د يوه مثال په توگه راوړي. خو په حقيقت کښي دا دليلونه ډيرد قناعت وړ نه دي. تر کومه ځايه چي د دې قضيې خبره ده، هغه درسونه چي د تيوري سره يې اړه لرله په لومړي ځل په ۱۹۷۰ يمه لسيزه کښي را منځته شول...)

يو بل وتلی نقاد پيټر بيري د ادبي تيوري د بحث په هکله داسي نظرلري. بيري ليکي چي په ۱۹۳۰ کښې دوه مخالف تنقيدي نظريات د مارکسي او تحليل نفسي ترنامه لاندي پيل شو، چي درې لسيزې (۳۰) وروسته، يعني په ۱۹۶۰ کښې بېرته را ژوندي شو. پيټر بيري ليکي:

> "In the 1960s, firstly, there were two older, but still unassimilated, rival new approaches, these being Marxist criticism, which had been pioneered in the 1930s and then reborn in the 1960s, and psychoanalytic criticism, which was of the same vintage and was similarly renewing itself in the 1960s." (15)

**ژباړه**: په ۱۹۶۰ (نولس سوه شپېته) کښي دوې زړې مگر نه خپلېدونکي کړنلاري وې، چي يو مارکسي تنقيد وو، چي په ۱۹۳۰يمه لسيزه کښي اختراع شوی وو، او په ۱۹۶۰ کښي بېرته را ژوندی شوه. او د تحليل نفسي تنقيد هم د دغه عصر ادبي نظر ؤ، چي په ۱۹۶۰ يمه ليسزه کښي يې ځان بېرته راژوندی کړ.

د دويمې ډلې پوهان په دې باوري دي، چي د ادبي تيوري پيل له روسي فارمليزم څخه پيل کيږي. مگر مخ په وړاندي د تيوري بحثونه عموميت پيدا کوي، چي د تيوري ساعت په نامه باندي نومول کيږي. پيټر بيري ليکي:

> **ژباړه**:"په ۱۹۸۰ يمه لسيزه کښې د ادبي تيوري ډير تاوده بحثونه وليدل شو. دا دوره د تيوري ساعت (moment of theory) لسيزه وه، ځکه چي دغه موضوع په ياده دوره کښې نه يوازي عام وه، بلکې متنازعه (controversial) هم وه."(16)

د دې بحث د لنډيز دپاره که ووايو، د ادب په اړه د ارسطو تنقيدي ليد لوري واقعي هم و ده ته په ادبي نړۍ کښې يو لوړ مقام ورکړئ دی. په دې اساس باندي ځيني ادبپوهان ارسطو د ادبي تيوري بنسټگر تسليموي. مگر د ادبياتو په اړه چي کوم نوي تنقيدي مباحث په شلمه پېړۍ کښې پيل شوي دي، هغه پخپله د اهميت وړ خبره ده. يعني د تيوري ترعنوان لاندي زياتره روان بحثونه د هم دې پېړۍ زيږنده دي، چي په لوړ بحث کښې يې لنډه يادونه شوې ده. د ادبي تيوري په وده کښې د رولانډ برتس، مائيکل فوکالټ، جېکس دريدا، رومن جېکبسن او ساسيور نومونه د يادولو وړ دي.

**پر ادبي تيوري باندي نيوکې: (Objections on Literary Theory)**

پر ادبي تيوري باندي له مختلفو اړخونو څخه يوشمېر نيوکې هم شوې دي. تحقيقي څېړني په گوته کوي، چي د نيوکو دا سلسله د ادبي تيوري له مباحثو سره سمه پيل شوې ده. د مثال په توگه،

ببلا ببلو نقادانو داسي يو شمېر مضامين او کتابونه ليکلي دي، چي ادبي تيوري تر تنقيد او نيوکو لاندي راوړي. په دې کښې ځيني ليکني ډېر شهرت لري، لکه، د فاول دي مېن (The Resistance to theory) ، د ستېون نپ او بين مائيکلز (Against Theory) د ټيري ايګلټن (after theory) ، او (The End of Theory, Beyond Theory and what's left of theory?) کتابونه د يادولو وړ دي.

د ادبي تيوري په هکله چي کومي نيوکې يا اعتراضونه راپورته شوي دي، دا تر مختلفو سر ليکنو لاندي د ادبي تيوري له موضوعاتو سره سم يو ځای تجزيه کيږي. په دې کښې شپږ نيوکې داسي دي چي اهمت لري: تيوري د تيوري لپاره، جديد تيورياني د لرغوني متنونو لپاره نامناسبې / ناسمې دي، نوي شراب په زاړه لوښي کښې، ادبي تيوري يو رجحان دی، پکار دی چي متنونه بلاتعصبه وڅېړل شي، او ادبي تيوري ناپېژندونکي جورګن استعمالوي. د ادبي تيوري په هکله دا هره نيوکه خپل دليل وړاندي کوي. تامس اې. سکيمز (Thomas A. Schmitz) په " جديد ادبي تيوري او لرغوني متنونو يو تعارف" کښې د دې نيوکو او اعتراضونو په هکله ليکي:

"۱- تيوري د تيوري لپاره:(Theory for theory's sake) : په دې کښې يوه نيوکه / اعتراض چي هر کله راپورته شوی دی، هغه دا دی، چي ځينيو پوهانو له ادبي متن سره خپله رابطه پرې کړې ده، او دوی تيوري يوازي د تيوري لپاره استعمالوي.

۲ – جديد تيورياني د لرغوني متنونو لپاره ناسمې دي (Modern Theories are inappropriate to ancient texts): جديد نظريات پر هغو متنونو باندي نشي عملي کېدلی، چي په منځ کښې دوه زره کاله واټن لري. ګرېګور موريچ (Gregor Maurach) هم داسي نظر لري، چي د کلاسيکل متنونو ترجمان به د جديت هيڅ يو ډول فورم نه خپلوي...

دا هم ويل کيږي، په کلاسيکل متنونه باندي هيڅ کله د جديد اصولو په رڼا کښې نشو پوهيدلی.

۳ – نوي شراب په زاړه لوښي کښې(New wine in old wineskins) معترضين دا تنقيد کوي چي ټولي معاصر تيورياني د هغو ايډياو تکرار دی، چي د لرغوني پوهانو يا نولسمې پېړۍ د پوهانو په ليکنو کښې ليدل کيږي.

۴ – ادبي تيوري يو فېشن دی:(Literary Theory is too fashionable) د يوه محقق په تحقيقي ليکنه کښې د ادبي تيوري استعمال تر يوه فېشن پرته نور هيڅ نه دی... اوځيني ليکوال يې د اکاډميک ګټو او شهرت دپاره په کاروي.

۵ - پکار دی چي متنونه بې تعصبه وڅېړل شي: (texts must be approached unprejudiced) کله چي موږ ادبي متنونه تر څېړنه لاندي راوړو، په دې کښې د ادبي

تیوري مطالعه موږ له بې تعصبي څخه راګرځوي... ځکه چې تیوري به له موږ څخه غرضیان جوړ کړي.

۶ –ادبي تیوري ناپېژندونکي جورګن استعمالوي: (Literary theory uses incomprehensible jargons) دا نیوکه پرهغو جورګنو باندي راپورته شوې ده، چې د تیوریسنیو لخوا په خپلو لیکنو کښې راپورته شوي دي، او مبهم ډول ماناوي لیږدوي."(17)

لنډه دا چې دا نیوکې پر خپل ځای باندي د اهمت وړ دي، مګر له دې سره د ادبي تیوري ارزښت او استعمال په معاصر ادبي څېړنو کښې خپل حیثت خوندی ساتلی دی.

**ترتیوري وروسته یا پس تیوري مباحث :(Post-Theory debate)**

د معاصر تیوري زیاتره مباحث د شلمې پېړۍ په وروستنیو څولسیزو کښې پیل شوي دي. دا علمي بحثونه وروسته د ادبي متن څېړلو، تنقید اوکلتور یوه مهمه برخه وګرځېده. څنګه چې د لیبرل هیومنیز یا ازاد خیالي په ردعمل کښې د نوي ادبي لید لوري تر عنوان لاندي د تیوري بحثونه پیل شول، هم دا ډول په تیوري پسې د پس-تیوري (post-theory) یا تر تیوري وروسته (after-theory)بحثونو نوي علمي موضوعات رامنځته کړل، چې د نورو علومو په څنګ کښې یې ادبي نړۍ هم اغېزمنه کړه. د تیوري هره دوره یوځانګړی ادبي لید لوری لري، چې په تېر بحث کښې یې یوازې د لیبرل هیومنیزم (چې بېنډیکټ ډي سپینوزا- په یوه لیکنه کښې د روایتي تیوري او دویم پړاو یې د معاصرتیوري په نامه باندي یاد کړئ دی) یادونه شوې ده. مګر د پس-تیوري یا تر تیوري وروسته مباحثو د اضطراري حالت سره سره یو لړ نوري پوښتني هم راپورته کړي دي. د مثال په توګه، د پس-تیوري یا تر تیوري وروسته ادبي لید لوری به څه وي؟ څېړنکي د تیوري سره د پس- (-post) یا وروسته (-after) مختاړي زیاتونه څنګه بیانوي؟ ایا د پس-تیوري منځته راتلل خو د تیوري د ختمېدو ازانګه نه ده؟ یا د پس-تیوري تر سایه لاندي به ادبي څېړني پرکوم لوري حرکت کوي؟ او یا دا چې موجوده علومو ته به له نوي سره څنګه کتل کیږي؟ او داسي نوري پوښتني دي، چې بېلا بېلو نقادانو په دې هکله راپورته کړې دي: لکه، ټېري ایګلټن، رامن سېلډین، پېټربېري، جوناتن کولر او داسي نور د یادولو وړ دي.

رامن سېلډین (Raman Selden) او ملګري یې پخپل یوه اثر"د معاصر ادبي تیوري دپاره د لوستونکي لارښود –پینځم چاپ-۲۰۰۵" کښې د تیوري په هکله راپورته شوي داسي بحثونو ته اشاره کوي. سېلډین یو ځای لیکي:

"As flurry of titles have told us, the present age has opened upon the 'End of Theory' or, more ambiguously, the moment of 'after- 'or 'post-'Theory." (18)

**ژباړه**: و موږ ته یو شمېر سرلیکونو دا په ګوته کړې ده، چې موجوده عصر 'د تیوري د پای' سره پېل شوی دی، یا په غېر واضح توګه د پس تیوري یا تیوري وروسته شېبې سره.

مګر لویز پرنانډو وېلینتې (Luiz Fernando Valente) له دې فکرسره موافقت نه لري، چې موجوده عصر د تیوري د ختمېدو سره پېل شوی دی. د دې پرځای باندي لویز پرنانډو په خپله یوه تحقیقي لیکنه (Post-Theory and Beyond) کښې یو بل تنقیدي نظر وړاندي کوي، او په دې کښې د پس-تیوري پیل کیده د تیوري د نوي ژوند په معنا اخلي. لویز لیکي:

> **ژباړه**:"پس-تیوري په بشپړه توګه تیوري نه ردوي...هم دا ډول پس-تیوري د تنقید او تیوري په ډګر کښې له نوي سره د نوي مواقعو دپاره لاړ هواره کړه، کومي چي د تیوري د عصر یو شمېر لاسته راوړني پکښې ځای کړې دي، او پخپله یې هغه څه رد کړل، چي د دې زیاتوب ښکاره کېدو."(19)

د پس-تیوري په تشریحاتو کښې ځیني پوهان داسي فکر لري، چي تیوري ته هرکله له یوه اړخ څخه کتل شوي دي. په دې عمل کښې یوشمېرلازمي اړخونه له پامه غورځېدلي دي. هم دا علت دی چي ادبي تیوري یوه علمي تشه / ستونځوه رامنځته کړه. د دې ستونځې د هوارولو دپاره نوي ادبي مباحث پیل شو. دا بحثونه د پس-تیوري په نامه باندي ونومول شو، چي پلویان یې و ادبیاتو او نورو مضامینو ته له نوي سره د کتلو مطالبه کوي. جین مائیکل رابېت (Jean-Michel Rabate-2002) د تیوري د یواړخیز خاصیت په هکله داسي نظر وړاندي کوي:

> "Theory, he writes, is always understood as being 'too one-sided, the mere half… of a whole in which the missing element is by definition truer, more vital, more essential…The problem with Theory seems to be that it is always accused of having missed something. That (truer, more vital, more real) 'something' has been in the past and is again designated by those coming 'after Theory' as 'literature' or 'aesthetics', criticism' or 'reading', 'culture' or 'politics'." (20)

**ژباړه**: دی لیکلي چي تیوري ته تل له یوه اړخ څخه کتل کیږي... چي په دې کښې ځیني ورک عناصر د تعریف له مخي ربښتني، ډېر ارزښتناکه او اساسي دي... د تیوري مسئله دا ده، چي پردې باندي تل د څه پرېښېدو تور لګول کیږي. دا یو څه، ربښتني، ډېر ارزښتناکه او حقیقي، په تېره زمانه کښې ؤ، او دا د راتلونکي پس-تیوري لکه ادب یا جمالیات، تنقید یا لوستل، کلتور یا سیاست له لوري بېرته تعین کیږي.

له دې سره سره داسي افکار هم لیدل کیږي، چي په ادبي تیوري کښې ادب او ادبي متن له پامه غورځول شوي ؤ. ځکه پوهانو دا کمي محسوسه کړه، او د پس-تیوري د لاري یې بېرته ادب او ادبیت /

هنریت ته مخه کړه. کولر (Culler) او ویلنټائن کېنینګم (Valentine Cunningham) دواړه داسي نظر لري. سپلډین د کولر او کېنینګم نظر داسي بیانوي:

> "For Culler, in an essay in the volume What's Left of Theory? (2000), it is explicitly literature and the literary which have been neglected …Cunningham's answer calls for a return to the traditional close reading of texts, which he believes theory has cast into outer…darkness."(21)

**ژباړه**: کولر په یوه مضمون، د تیوري څه پاته دي (۲۰۰۰) کښې داسي نظر وړاندي کوي، چي دا په ښکاره توګه ادب او ادبیت دی چي له پامه غورځول شوي دي... د کېنینګم ځواب د متن و روایتي غور لوستلو ته د راستنېدلو مطالبه کوي، کوم چي دی یقین لري، تیوري بهر یا په تیاره کښي پرېښی دی.

که یوه لوري ته پورتني پوهان د ادب او هنرییت او یا له نوي سره په غور سره د متن روایتي وئیلو غوښتني کوي، کوم چي په ادبي تیوري کښې له پامه غورځول شوي ؤ. مګر د معاصر ادبی نړۍ په مباحثو کښې داسي انتقادونه هم لیدل کیږي، چي د پس-تیوري راتګ تر پوښتنه لاندي نسي. د دې ادبي دریځ مدافعین فکر لري، چي پس-تیوري لا تر دې مهاله نه ده پیل شوې. بېنیډیکټ ډي سپینوزا (Benedict de Spinoza) په یوه مقاله:'(Post-Theory: Theory and 'the Folk' کښي د مېک کولېن دا نظر داسي لیکي:

> "McQuillan et … '[p]ost-Theory is a Theory 'yet to come. For these post-Theorists, post-Theory represents a call for new vibrant, relevant, and readily understandable Theoretical discourses."(22)

**ژباړه**: (پ) س-تیوري هغه تیوري ده چي لا تر اوسه پوري نه ده راغلې. د دې پوسټ-تیورسینو، مېک کولېن او ملګرو، دپاره پس-تیوري د نوي واضح، موزون او په اساني سره پوهیدونکي تیوریټکل بحثونو غوښتنه کوي.

دا خبره هم د یادونې وړ ده، چي د تیوري او پس-تیوري موضوع له مختلفو علمي مضامینو سره اړه لري. یو شمېر اوسني تیوریسین په دې عقیده دي، چي د تیوري او فلسفې په منځ کښې د موضوعاتو کړکېچ د پس-تیوري موضوع رامنځته کړه. د دې بحث له رویه هغه موضوعات چي نن له معاصرې تیوري سره اړه لري، یو وخت د فلسفیانو موضوعات ؤ. او پوسټ-تیوریټکل موضوع د تیوري او فلسفې د بېلېدو غوښتنه کوي. سپینوزا په یاده لیکنه کښې د تیوري او فلسفې تر بحث لاندي لیکلي:

> "Hence one way of reading the post-Theoretical moment is to see it as inaugurating a new disarticulation of Theory from philosophy. There are two possible scenarios here. Firstly, post-Theory could mean Theory divorced from philosophy per se; perhaps because with the demise positivism,

Theorists no longer perceive any need of legitimating support from the synoptic powers of the philosophical imagination."(23)

**ژباړه**: له دې امله د پس-تیوریتیکل مومینټ لوستلو یوه طریقه د تیوري له فلسفې څخه د بیلېدو ابتدا ده. دا ډول دلته دوې ممکنه منظرې دي. لومړی د پس-تیوري مطلب د تیوري له فلسفې څخه بېلیده دي. شایدد اثباتیت له ختمیدو سره، تیوریسین نورددې ضرورت نه محسوسوي چي له فلسفیانه تصوراتو څخه دې قانوني حمایت ترلاسه کړي.

د پورتني بحث په رڼا کښې ویلائ شو، چي د تیوري ځانګړي لیدلوري د ځیني نیمګړتیاو په څنګ کښې نوي پوښتنې راپورته کړلې. هم دا سبب وو، چي د دې نیمګړتیاو د سمولو دپاره د پس-تیوري ارزښت احساس شو. په دې اساس باندې و تیوري ته د پس-تیوري په رڼا کښې له نوي سره وکتل شو. او دا هڅه وشوه چي د تیوري د ځانګړي لید لوري له سوبه راپورته شوې ستونځې هواري کړي. مګر دا سوال پرخپل ځای پلټنه ته ضرورت لري، چي د پس-تیوري وروسته هغه نیمګړتیاوې هواري شوې دي، که لاهم هغسې پاته دي؟

**ادبي تیوري او که د پښتو ادب تیوري**:

هره انساني ټولنه خپل سیاسي، معاشي، ادبي، کلتوري، او ټولنیز خصوصیات لري. دا خصوصیات د یادې ټولني د اجتماعي اقدارو نمائندګي کوي. پښتني ټولنه یا د ملت په تناظر کښې افغاني ټولنه هم دا ډول ارزښتونه لري، چي د تاریخ په یوه اوږده پېرکښې یې تشکیل موندلی دی. اوس چي کله یو محقق پښتني یا افغاني ټولنه تر تحقیق لاندې راوړي، هم دا خصوصیات به په نظر کښې نیسي. ترکومه ځایه چي د پښتو یا افغاني ادبیاتو او ژبو خبره ده، دا ځانله خپلې ځانګړني لري. په دې اساس باندې دا پوښتنه رامنځته کیږي، چي د پښتو یا افغاني ادبیاتو او ژبو د څېړلو او تنقید دپاره دې له نړیوال ادبي تیوریانو څخه استفاده وشي، اوکه دې خپله ادبي تیوري وموندل شي، او له هم دې څخه دې کار واخیستل شي؟ د مثال په توګه، د خوشحال خان خټک نثري اثر، دستار نامه، دې د فارملیزم یا ساختیاتو د اصولو په رڼا کښې وڅېړل شي، او که دې خپله تیوري وربادي عملي شي؟ دا هم یو منلی حقیقت دی، چي د عام اصولو له مخې ادبي تیوري هیڅ بندیزونه نه لري. او هغه عمومي اصول چي د رشین فارملیزم یا یوه بل ادبي لیدلوري اساس ګڼل کیږي، په پښتو ادب کښې هم هغه ډول عملي کېدلی شي، چي څنګه په نورو ژبو کښې عملي کیږي. مګر تر څو پوري چي د خپل ادب د تیوري خبره ده، یعني داسي تیوري چي یوازې د پښتو یا افغاني ادبیاتو څخه اغیزمنه وي، ته ضرورت لرو. استاد نجیب منلی هم دا ډول افغاني تیوري ته اشاره کوي، او غواړي چي خپله افغاني تیوري جوړه کړو. هغهٔ له اسد الله غضنفر سره د ادبیاتو دنیا (پرادبي موضوعاتو مرکې او بحثونو) کښې یو ځای داسي فکر ښرګندوي: ...

" نو که چیرته موږ خپل بدیع، بیان، منطق، معاني، دا ټول سره رایو ځای کړو، له دې نه یوه تیوري جوړیږي...زه په دې عقیده یم چې موږ په افغانستان کې دې ته اړتیا لرو، چې د افغاني ادب تیوري جوړه کړو. یعني د افغانستان ټولنه باید وپیژنو، د افغانستان په ژبو باندي فکر وکړو، د افغانستان د ژبو تر منځ په ارتباط باندي فکر وکړو، د افغانستان په خلکو باندي باید فکر وکړو، د خپل هیواد په تاریخ باندي باید فکروکړو او د دې ټولو په رڼا کښې افغاني اثار وڅېړو. کله چې افغاني آثار و څېړو له هغې وروسته موږ خپله تیوري پیدا کولای شو." (24)

د خپلې تیوري څخه مقصد هغه ادبي اصول چې یوازې د پښتنې یا افغاني ټولنې د ادبیاتو او احساساتو ترجماني وکړي. داسې نه چې د جهاني ادبي اصولو تر سایه لاندې نېغ په نېغه ټول بهرني اصناف خپل کړو، او خپل ملي احساس، فکر، اهنګ او خوند پکښې ورک شي. یا داسې وي، چې په ادبي معیار خوهنریت لري، مګرد خپل ادب ځانګړني، د خپلې خاوري احساس، د ټولنې درد، او د ملت د قومي شناخت عکس پکښې نه لیدل کیږي.

یاده دې وي، چې په نولسمه پېړۍ کښې روسي ادبي ټولنه هم له داسې ورته مسئلې سره مخامخ شوې وه. کله چې په روس کښې د قومي شناخت (national identity) مسئله رامنځته شوه، نو ادبپوهانو د قومي شناخت موندلو په لټه کښې خپل ادب ته مخه کړه. او هڅه یې وکړه، چې په خپل ادب کښې قومي شناخت ولټوي. مګر په دې څېړنو کښې دوی هغه وخت پاته راغلو، چې کله یې پام یوازې و یو شمېر هغو ادبي اصنافو ته وګرځولی، چې له نړیوال ادب څخه یې اخیستي ؤ. دوی په دې خارجي اصنافو کښې د خپل قومي شناخت او قام پالنې هغه احساس او کردار لټول غوښتو، چې یوازې د روسي ټولنې نمائندګي وکړي. له پرله پسې څېړنو وروسته، دوی دې نتیجې ته ورسیدو، چې زموږ د قومي شناخت نمائندګي یوازې پخپل فولکلورکښې شوې ده. جیسیکا اګیلېر(Jessika Aguilar) په یوه لیکنه:" فولکلور او د نولسمې پېړۍ په روسي ادب کښې د قومي شناخت جوړښت": کښې د ځینې وتلي روسي پوهانو انتقادونه داسې وړاندې کوي. بېلنسکي وائي:

"موږ هیڅ ادب نه لرو... پائوټر چاډایو(Pyotr Chaadayew) وائي: موږ له خپل ځان څخه بېګانه شوي یو... دا یوه منلې خبره وه، چې د روس څخه د کلتوري نقل خورو یو قام جوړ شوی دی. ځکه چې دوی و داسې حالت ته رسیدلي ؤ، چې د خارجي ماډلونو نقل یې روسي بللی."(25)

د پښتو ادب تیوري یا د افغاني ادب تیوري څخه یوازېنۍ مقصد هم دا دی، یعني هغه تیوري چې د خپل ادب له ځانګړنو څخه ترتیب شوې وي، او د خپلو ادبیاتو ترجماني وکړي.

د ادبي تيوري د مجموعي بحث په رڼا کښې ويلائ شو، چې د روايتي ادبي ليد لوري (ليبرل هيومنيز) په رد عمل کښې د معاصر ادبي تيوري تر سرليک لاندي نوي ادبي مباحث پېل شو. او بيا د پس-تيوري يا تر تيوري وروسته نظريات رامنځته شول. په دې ادبي نظرياتو کښې ادب ته له مختلفو اړخونو څخه وکتل شو، او کتل کيږي. که يوه لوري ته د متن خبره کيږي، نو بل ادبي ليد لوري د ژبې اهميت ته پام اړوي. هم دا ډول، ځيني مکتبونه د هيت او ساخت موضوع ته ارزښت ورکوي.

# حوالې

1 – Sartre, Jean-Paul, what is literature, (translated from French by Bernard Frechtman), Philosophical Library, 1949, p.38

2 – Abend, Gabrial, *The Meaning of Theory*, published by American Sociological Association, 2008, , https://www.jstor, Accessed on 18 Nov, 2019, pp.173-99

3 – Culler, Jonathan, Literary Theory: A Very Short Introduction, Oxford University Press 1997, second edition 2000, United States. p.15

4 – Carter, David, Literary Theory, Great Britain, Cox & Wyman, Reading, 2006, p.15

5 – Berry, Peter, An Introduction to Literary and Cultural Theory (second edition-pdf) UK, Manchester University Press, p.11

6 – Cuddon, J. A.: A Dictionary of Literary Terms and Literary Theory (5th edition) 2003, Wiley-Blackwell, A John Wiley & Sons, Ltd., Publication, UK, p.395

7 – صلاحی، محمد نبی، نوې ادبي تیوري، کابل، د علومو اکاډیمی، ۱۳۶۸، مخ ۱

8 – Schmitz, Thomas, A., Modern Literary and Ancient Texts, UK, Blackwell Publishing Ltd. 2007, pp.7-11.

9 – صلاحی، محمد نبی، نوې ادبي تیوري، کابل، د علومو اکاډیمی، ۱۳۶۸، مخ ۳۵

10 – Jowett, Benjamin,. *The Republic of Plato*. (Translated). London: The Clarendon Press Oxford, (1888) https://TheVirtualLibrary.org: Derived on 10 Nov, 2019

11 – روهي، محمد صدیق، ادبي څېړنې، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۲۰۰۷، مخ ۳۵

12 – همدغه، مخ ۳۵

13 – شینواري، دوست، د ادب د تیورۍ اساسونه، کابل، افغانستان، دولتي مطبعه، ۱۳۶۵، مخ ۸

14 – Wolfreys, Julian. *Introducing Literary Theories: A Guide and Glossary*. Great Britain: Edinburgh University Press Ltd, (2001), pp. 2-3.

15 – Barry, Peter. *Beginning Theory: An Introduction to Literary and Cultural Theory* (2nd Edition). UK: University Press, English Department, UCW, Aberystwyth, (2002), pp.30.

16 – ibid, p.10

17 – Schmitz, Thomas, A., Modern Literary and Ancient Texts, UK, Blackwell Publishing Ltd. 2007, pp.6-10.

18 –Selden, Raman, Widdowson, Peter & Brooker, Peter: A Reader's Guide to Contemporary Literary Theory-5th ed-2005, Great Britain, Pearson Education Limited, p.267

19 – Valente, Luiz Fernando, Post-Theory and Beyond, (pdf) published 22.10.2020, p-22 ARTIGOS (ISSN 0103-6963, e-ISSN2596-304X) doi:https:// doi.org/10.1590/2596-304x20212342lfv

20 – Selden, Raman, Widdowson, Peter & Brooker, Peter:A Reader's Guide to Contemporary Literary Theory-5th ed-2005, Great Britain, Pearson Education Limited, p.269

21 – ibid, p.270

22 – Spinoza, Benedict de: Post-Theory: Theory and 'the Folk, (pdf), p.7

23 – ibid, p.16

24 – غضنفر، اسدالله او منلی، نجیب: د ادبیاتو دنیا (پر ادبي موضوعاتو مرکې او بحثونه) ۱۳۹۹ ه ش، مخونه ۶۶۷ – ۶۵۷

25 – Aguilar, Jessika: Folklore and Construction of National Identity in Nineteenth Century Russian Literature. (pdf) Columbia University, 2016, pp.1-2